# پټه خزانه

له ډېري مودې څخه مي د ملي ژبي د ادب په تاريخ کي مطالعه درلوده او د دې ژبي د زړو آثارو په څرک ايستلو بوخت وم، استقراوي مي وکړې، خو د (۱۵) کالو د مطالعاتو په نتيجه کي مي د پښتو ادب تاريخ، تر درو څلورو سوو کالو دمخه معلوم نه کړای سو، او د خپلو پلټنو ماحصل مي لومړی پلا په ۱۳۱۴ کي د طلوع افغان په جريده کي د (تاريخچهٔ شعر پښتو) په نامه په پارسي وليکی.

وروسته چي دا کتاب خپور سو، خپلي ادبي پلټني مي پسي پرې نه ښوولې او په دې هيله چي په دې ژبه کي به تر دې لا زاړه او پخواني آثار لاس ته کړم، هري خوا ته وځغاستلم، او په هر ګوټ کي مي پلټني وکړې، ولي ټينګ عقيدت مي درلود چي دا ولاړه ژبه روڼ تاريخ لري او د هغه ادب کوچنی او هلک نه دئ، دا ژبه تر اسلام دمخه په پېړيو پېړيو د وطن په غرو کي ژوندۍ وه او تر څلورو زرو کالو ډېر يې په دي مځکه کي ژوندون درلود او په دغو غرو کي يې نوم پروت و، او د نن ورځي پښتونخوا بېله شبهې هغه د هيرودوت (پکت ايکي) ده او د نن ورځي هغه (پکت ويدا) دئ چي بېله شبهې بخت، بخد او زوړ باخدي او تاريخي باختر د دې غيور ملت له نامه څخه ريښه اخيستې او د وطن زوړ مدنيت د دغه ټبر د نامه سعي او عمل مرهون او رانيولی دئ.

هر کله چي زوړ ويدا د (پکهت) په نوم د يوه پخواني ملت وجود راوښووی او هيرودوت د هغوی ټاټوبی او د اوسېدلو ځای (پکتي ايکا) وبولي، او تر اسلام وروسته هم د وطن تر ټولو پخواني مړرخين د دې غيور او زمري ملت نوم په زړه ورتوب سره وستايي او د آل محمود، آل شنسب تاريخ ليکونکيو د وطن په تاريخ کي پښتون لره لويه ونډه او سهم ورکړی، نو بېله شک او شبهت څخه ويلای سو، چي دا ژبه د خورا پخوا وختو او زړو زمانو څخه د دې خپلواک او خپلواکي غوښتونکي ملت سره ژوندۍ وه او دې هم يو شعر او ادب لرلی دئ.

د دغو مثبتو تاريخي ملاحظاتو په اساس سره و چي زه تل په پلټنه او ګرزېدو کي وم چي د دې ژبي پر زړو آثارو لاس بر کړم او هغه د مجهوليت له تاريکو زاويو څخه ميدان ته راوباسم.

ځکه چي غوښتونکی هر کله موندونکی دئ او زيار په نړۍ کي لږ بې نتيجې پاته سوی دئ، له دې لامله په ۱۳۱۸ کال کي چي د کندهار د ارغنداو پر غاړه په يوه کلي کي د مسجد په يوه حجره کي مي زړې پاڼي پلټلې او زاړه کاغذونه مي سره اړول، پر څلورو ورقو پېښن سوم، چي په خورا بد خط په پښتو ليکل سوي وې او تر څو شپو زحمت او مطالعې وروسته څرګنده سوه چي نوموړې پاڼي له يوه ورک کتابه څخه دي چي د سلېمان ماکو له خوا تر (۶۱۲ هـ) وروسته د کندهار په ارغسان يعني اراکوزي کي د پښتو تذکرۀ الاولياء په نوم ليکل سوی دئ او د پښتون د رجالو او ادب په تاريخ کي يو مهم اثر دئ.

نوموړې ورقي مي خورا راټېري وګڼلې او د هغو په حل او لوستلو کي مي شپې روڼي کړې او د مشکلاتو په حل کولو کي مي اړخونه وچ سول، هغه و چي د دې کتاب دغو څلورو پاڼو د پښتو ادب له ځلانده مخ څخه تور او پټ پېڅولونه پورته کړل، او پخواني اشعار يې د حضرت بېټ نيکه او نورو د ويناوو او سروزونو په څېر راوسپارل او د پښتو ادبياتو د تاريخ يو مهم ټوک يې موږ ته راکړ، چي د پښتانه شعراء د لومړي جلد لويه برخه تشکيلوي.

دا لوی ادبي برى چي تر پلټني وروسته مي په برخه سو، زما هيله يې لا ډېره کړې او په هغه سره د ادب د تاريخ د پلټونکو او مينه والو په زړوکي لمر راوخوت، هغه و چي د لاکاميابۍ او د زيات ادبي کشف اميد مي پيدا سو، او په ۱۳۲۰ کال چي په کندهار کي وم، د يوه کتاب څرک مي ويوست چي د ادب په تاريخ کي تر ټولو آثارو مهم ګڼل کېدی او د ژبي د ژوندي کولو له پاره لکه روح داسي و. دغه دئ چي اوس دا کتاب د والاحضرت وزير

معارف په تشویق او پښتو پالنه سره       تر ډېرو پلټلو وروسته لاس ته راغی او نن ورځ د دې کتاب د کشف زېری دربانديکوم او غواړم چې د هغو ادبي ښېګڼو او تاریخي غنایمو په شاوخوا کې چې په دې زړه خزانه کې پټ دي د ملي ادب د ذوق والو سره مرکه وکړم اوګراني مرغلرې يې د ملیت د دوستدارانو حضور ته وړاندې کړم.

دا کتاب (پټه خزانه) نومېږي چې مرحوم محمد د داود خان زوی د قادر خان هوتک لمسي په ۱۱۴۱ هـ کې د علم پالونکي ادیب پادشاه شاه حسین هوتک (د ملي قاید حاجي میرویس خان زوی) په امر او غوښتنه سره دکندهار په (زاړه ښار) کې ولیکی، لکه پخپله مؤلف چې دکتاب په خاتمه او مقدمه کې وایي :

د ده نیکه قادر خان له (مرغې) څخه دکلات و سیوري ته او له هغه ځایه وکوکران ته کډه وکړه او په ۱۰۵۸ هـ کې هلته مړ سو، پلار يې داود خان چې یو عالم او د ذوق تښتن او ادیب و په کوکران کې په ۱۰۲۹ کې زېږېدلی او د مرحوم حاجي میرویس خان سره د آزادۍ په جهاد کې ورسره و، او په ۱۱۲۰ هـ کې چې خسرو خان د صفوي له دربار څخه د خونخوار لښکر سره دکندهار د آزادي غوښتونکو په ستولو (دګرګین خان تر وژلو وروسته) وګمارل سو، داود خان له کندهاره د ملي قاید مرحوم حاجي میرویس خان له خوا د سپه سالار په حیث و فراه او سیستان ته ولاړ، چې هلته يې د پښتنو قبیلې راغونډې کړې او د ایران پر قواوو يې ور وځغاستل او تر دې ملي مجاهداتو وروسته په ۱۱۳٦ هـ په کوکران کې وفات سو.

محمد د دې کتاب لیکونکی د خپل پلار تر وفات وروسته د پادشاه په امر په کندهار کې واوسېدی او د هغه زلمي او ادیب ټولواک د ادبي مجلسو د تحریر وظیفه يې درلوده او لکه پخپله چې اشارت کوي  هر کله به يې د (نارنج) په قصر کې چې د پادشاه ځای و، د نوموړي ادب پالونکي او پوه پادشاه په علمي او ادبي مجلسو کې شمولیت درلود، او د پادشاه او د دربار د رجالو مخصوص الطاف به ورسره کېده، محمد د جمعې په ورځ د څلرمي خور پر ٦ په ۱۱۴۱ هي کې خپل مهم او مفید کتاب نښلولی او یو کال وروسته په ۱۱۴۲ هـ کې دکوچني اختر د میاشتي پر ۲۴ مه د هغه له لیکلو څخه فارغ سوی او پر درو خزانو يې ووېشی :

لومړۍ خزانه د پښتو د پخوانیو شعراو په بیان کې ده چې د اسلام د استقرار له اوایلو څخه تر زرمي هجري سنې پوري د م،لف تر عصر دمخه تېر سوي دي، دوهمه خزانه د مؤلف د همعصرو شعراوو شرح حال او اشعار دي. دریمه خزانه د پښتو د شاعراتو شرح حال او آثار دي او دکتاب خاتمه د مؤلف او د ده دکورنۍ د حال په بیان کې ده.

دکتاب اوسنۍ نسخه په ۱۱۲ متوسطو مخو کې د محمدعباس کاسي په معمولي خط دکوئټې په ښار په ۱۳۰۳ هـ کې د حاجي محمد اکبر هوتک له پاره له هغې نسخې څخه نقل سوېده چې په ۱۲٦۵ کې د نورمحمد خروټي په خط سره د مرحوم سردار مهردل خان مشرقي ادیب سردار او ادب پالونکي شاعر دپاره استنساخ سوې ده.

د دې اوسنۍ نسخې مالک مرحوم حاجي محمداکبر خان هوتک و، چې د ذوق تښتن یو تاجر او ادیب و او د ملي شعر سره يې ښه علاقه درلوده او (٦۰) کاله دمخه يې په کندهار کې د پښتو کتابو یوه ښه کتابخانه راغونډه کړې او پښتو يې ښه لیکله. لکه چې ما د ده د اولادو څخه د نوموړي کتابخانې ځیني مهم کتابونه لیدلي دي او دغه نسخه هم نوموړي ذوق لرونکي تاجر د یوه کاتب په ذریعه استنساخ کړې ده. اوس چې مي د دې کتاب د مؤلف او مالک په باب کې مختصر معلومات درکړل نو به د ادب د تاریخ له مخې دکتاب مضامین او د اشعارو کیفیت اوکمیت او دکتاب حقیقي قیمت څرګند کړم او هغه د ملي ژبي ادبي مرغلري او نفیس غنایم چې په دې پټه خزانه کې سته میدان ته راوباسم.

د دې کتاب ښېګڼې په دې موادو کې لنډ ویلای سو :

(۱) د ملي ژبي داسي ډېر شعراء راښووي چې د سلم هجري کال وروسته د مؤلف تر عصر پوري په

مختلفو اوقاتو او کلوکي اوسېدلي او قيمت لرونکي اشعار يې په دې ژبه کي يادګار پرې ايښي دي، چې که د هغه عصر يوه جمله يا مصرع وموندله سي هم غنيمت دئ، لوړي قصيدې او اشعار خو يې پرېږدئ.

(۲) پخپله کتاب د ژبي د نثر تر ټولو خوږه او ښه نمونه ده، چې د سلېمان ماکو تر تذکرې وروسته د پښتو تر ټولو مهم منثورکتاب دئ او د مړلف د ليکلو سبک هم هرګوره متين او منلی دئ.

(۳) د ژبي ډېر پخواني الفاظ او کلمات پکښې خوندي دي، چې خورا غنيمت دي او موږ اوس ډېر احتياج ورته لرو، دا کلمات په نورو کتابو کي نه سو موندلای، په اوسنۍ محاوره کي هم له تداول څخه لوېدلي دي، خو د هغو استعمال د پخوانيو استادانو په کلام کي پر دې دلالت کوي چي ژبي تر اوس پخوا ډېر وسعت درلود او د نورو ژبي غلبې د هغې ډېری مواد ورسره وړي دي. مثلاً د ځينو اوقاتو لکه ماپښين، مازديګر، ماښام او ماخستن له پاره اوس موضوعي نومونه نه لرو، خو پوهېږو چي پښتو ژبي دا نومونه له فارسي څخه اخيستي او پخپل قالب کي يې مسبوک کړي دي او دا له هغه وخت څخه دي چي فارسي ژبي غلبه موندلې او د دفتر، دربار او ادب ژبه ګرزېدلې ده.

د بيهقي له تاريخ څخه چي د نماز پيشين او نمازديګر مرکب کلمات پکښې راغلي دي راوزي چي دا کلمات عين د سبکتګين د کورنۍ په عصر کي ژوند درلود او له هغه وخته په ژبه کي داخل سوي، وروسته د زمانې په تېرېدلو سره مفغن سوي دي.

ليکن په دې کتاب کي د دغو اوقاتو له پاره غير مرکب موضوعي نومونه راغلي دي، چي خورا غنيمت دي. برمل (ماپښين)، لرمل (مازديګر)، ترمل (ماښام) دئ. دغه ډول نور ډېر داسي کلمات او لغات لري چي اوس له استعماله لوېدلي دي، مثلاً : جګړن (عسکر)، ژوبلور (لشکر مهاجم)، خاتيځ (مشرق)، لوېديځ (مغرب)، او د زړو آريايانو پخواني ډېر کلمات د دې کتاب په زړو اشعارو او سرودونو کي نغاړلي دي چي د داسي کلماتو د استعمال د مواردو په استناد سره د پښتو پر اصالت او زوړوالي حکم کولای سو او دا نتيجه څني اخيستلای سو چي پښتو ژبه د آريايي ژبو مور ده، حتی د سنسکريت سره هم د اصل او فرع رابطه لري.

مثلاً په دې کتاب کي ښکارندوی (د احمد د فېروزکوه د کوټوال زوی) د محمد سام غوري په مدح کي د ده د فتوحاتو او د مځکي د سفرو په نسبت چي په هند کي يې کړي دي يوه لوړه قصيده لري چي په يوه بيت کي يې (چندي) د شاعر په معنی او (اشلوک) د شعر او نظم په معنی راغلي دي.

کله چي موږ د دې دوو کلمو په شاوخوا کي تحقيق کوو ليدل کېږي چي دا کلمات په هندي آريانانو کي هم په علمي او ادبي توګه رسميت موندلی و، هغه وخت چي آريانان زموږ د وطن له شنو ډګرو څخه هند او پنجاب ته ولاړل نو په تېنګه ويلای سو، چي نوموړي کلمات به له دې ځايه څخه هغه ځای ته تللي او له هند څخه به دېخوا ته نه وي راغلي.

علامه ابو ريحان البيروني چي يو لوی محقق او نقاد دئ او زرکاله دمخه يې د هند د آريانانو د احوال ډېر غنايم په کتاب الهند کي راټول کړي او د هغه کتاب په ديرلسم باب کي يې د هندوانو د شعر او نحو په بيان کي اختصاص ورکړی جامع او مفيد معلومات ورکوي، په هغه ځای کي د هندوانو د شعر ويلو او نظم جوړولو يعني (چند) شرحه لري، او د هغه علم ډېر مړلفين او موجدين راښووي او د هند د آريانانو د اشعارو اوزان او افاعيل، د هغه علم د اصولو او ضوابطو سره مفصلاً ليکي او (اشلوک) د کتابي سرودونو اساس بولي.

په داسي صورت کي چي (چهند) د نظم او شاعرۍ علم وي (چندي) ښله شبهې شاعر او ناظم او دا يوه کلمه ده چي په پښتو کي يې ادبي عمر د دې قصيدې په استناد سره تر ۸ – ۹ پېړيو دمخه رسېږي. دغه ډول زموږ خزانه د ژبي له خورا روڼو مرغلرو څخه ډکه ده، مثلاً بولله (قصيده)، دريځ (منبر)، نمزدک (مسجد)، بودتون (بتخانه)، رپی (بيرق)، څنډون (افق)، ګروه (دين او کيش)، ورځلوی (قيامت)، سما (انصاف)، تېکنه (عدل) او

نور چي د هغو شرحه په دې لنډه مقاله کي نه ځايېږي.
(۴) د وطن د خورا مهمي دورې يعني غوريانو شرحه لري او د غور او د آل شنسب له نيکه ګانو څخه موږ ته ښه معلومات راکوي چي په نورو تاريخونو کي نه دي راغلي او که راغلي وي نيمګړي خواوي يې بشپړي کوي.
(۵) دا کتاب ثابتوي چي د غوريانو د پلار او د نيکه ژبه پښتو ده او دا ژبه تر غزنويانو دمخه هم د ادب ژبه وه.
(٦) د ملتان او د هند د شمال غربي برخي لوديه سلاطين لکه شيخ حميد، نصير، داود او نور چي راوروسته مېرخينو دوی پښتانه ګڼلي دي او د تاريخ ځينو مدققينو د دوی له پښتون توب څخه انکار کړی دئ او عرب يې بللي دي.
(٦) دا کتاب ثابت کوي چي نوموړي سلاطين تر ۳۵۰ وروسته د سلطان محمود تر عصر پوري حکمراني درلوده پښتانه او ژبه يې پښتو وه او د دې دوو نفرو اشعار يې په دې کتاب کي په ټينګو رواياتو سره ليکلي دي.
(۷) د هوتکو د دورې خورا مهم تاريخي نکات چي موږ ته معلوم نه وه راښووي، او د هغې دورې د معروفو رجالو او د دربار اوضاع راته معرفي کوي.
(۸) د نوميالي ملي مشر حاجي ميرويس خان د حيات او شرح حال په باب کي په زړه پوري معلومات لري، د هغه نوميالي او غښتلي د تولد اوقات او د آزادۍ غوښتلو د اقداماتو تاريخ چي تر اوسه په قطعي يقيني ډول راته معلوم نه و، يو يو راښووي او له دې لامله د وطن د تاريخ د يوې مهمي دورې تفاصيل موږ ته را زده کوي او ډېری تاريخي شکوک زايل کوي او د هغه چا له پاره چي د هغې دورې تاريخ به وليکي يوازينی ټينګ او قوي سند دئ چي تاريک ګوټونه روڼوي.
(۹) زموږ محقق مېلف عادت لري چي هيڅ خبره بېله حوالې او روايت او قوي عنعنې څخه نه ليکي. مېخذ يا راوي يې ښووي او دا د استادانو لار ده چي د دوی کتابونه او پاته آثار د روايت له نقطهٔ نظره خورا قوي دي، مېلف خپل ډېر معلومات له پلار څخه چي يو اديب، فاضل او غښتلی سپه سالار و روايت کوي، ځيني معلومات يې د سماع له مخي او پاته يې همهغه معلومات دي چي مرحوم پلار يې درلودل او هم پخپله مېلف ډېر کتابونه ليدلي او له هغو څخه يې نقل کړي دي.
ځکه يې نو پټه خزانه د دې نقطهٔ نظره چي د وطن ډېر کتابونه او مېلفين موږ ته راښووي خورا قيمت لرونکې اوګرانه ده. په دې کتاب کي د وطن ډېر مېلفين او د دوی ګټور کتابونه او آثار ذکر سوي دي چي د ادب د تاريخ په کتابو او پخوانيو او اوسنيو کتابشناسيو کي يې نوم نسته، مثلاً : "تاريخ سوري" د محمد ابن علي البستي، "د خدای مينه" شيخ متي متولد په ٦۲۳ هجري کي، "اعلام اللوزعي في اخبار اللودي" د شيخ احمد ابن سعيد اللودي تېليف په ۲۸۵ هجري کي، "کليد کامراني" د کامران خان د لوی احمدشاه بابا له نيکه ګانو څخه په ۱۰۳۸ هـ د کندهار په ښارصفا کي ليکل سوی دئ.
"لرغوني پښتانه" د شيخ کټه متي زي چي د تاريخ سوري کتاب يې په بالښتان کي پيدا کړی او د ګټو آثار يې له هغه څخه اخيستي دي او د قدماوو د اشعارو په خوا کي د مېلف د معلوماتو يوازينۍ منبع ده، "د سالو وږمه" د ابو محمدهاشم ابن زيد السرواني البستي (په ۲۹۷ هجري کي وفات سوی دئ) چي د عربو د اشعارو په باب کي يو کتاب دئ.
"بستان الاولياء" د شيخ بستان بړيڅ چي په ۹۹۸ هجري کي د کندهار په ښوراوک کي ليکل سوی دئ، "مخزن افغاني" د خواجه نعمت الله نوري هروي تېليف په ۱۰۱۸ هـ کي محمدرسول کلاتي ليکلی دئ، "غرغښت نامه" د دوست محمد کاکړ چي په ۹۲۹ هجري کي نظم سوېده، "د صالح الله يار الکوزي تحفه" چي د ۹۰۰ هجري سني په حدودو کي تېليف کړېده، د محمديونس خان موسٰی خېل د اشعارو دېوان، د خوشحال خان د زوی

عبدالقادر خان خټک "حدیقهٔ خټک"، د الله یار افریدي دېوان، د صدر دوران بابو جان بابي قصص العاشقین چي په ۱۱۲۹ هـ نظم سوی دئ.

محمودنامه یا شهنشاه محمودي چي ربدي خان مهمند کندهاري تر ۱۱۳۷ هـ وروسته په کندهار کي نظم کړې او د شاه حسین له حضوره یې زر طلاوي حله موندلې وه. دا اثر د حاجي میرویس خان د حرکت چي په کندهار کي یې کړی او هغه یې د پردو له سلطې څخه ساتلی و او د محمود هوتک پادشاه د فتوحاتو چي په ایران کي یې کړي دي، په شرحه کي دئ. "روضه رباني" د ملا محمدفاضل بړېڅ، "محاسن الصلوۍ" د محمود عادل بړېڅ، د محمدایاز نیازي د اشعارو دېوان، "تحفهٔ واعظ" د ملا محمد حافظ بارکزي، د نصرالله اندړ د اشعارو دېوان، "نافع المسلمین" د ملا نورمحمد غلجي (د میرویس خان د کورنۍ استاد)، " ارشاد الفقراء" د مېرمن نېکبختي چي په ۹٦۹ هـ کي لیکل سوی دئ، "پښتو بوستان" چي د دین محمد کاکړ لور زرغونې مرحومي شاعري په ۹۰۳ هـ کي په پښتو نظم کړی دئ. د رابعې دېوان چي د ۹۱۵ هـ سنې په حدودو کي یې حیات درلود.

دا وه هغه مختصر کتابونه چي تر اوسه موږ ته نه وه معلوم او د زمانې په تېرېدلو سره ورک سوي دي.

پر دې سربېره یې هغه کتابونه او دېوانونه ذکر کړي دي چي اوس هم معمول او متداول دي او مونده کېږي.

(۹) څو نفره شاعر او ادیب او عالم او ادب پالونکي ټولواکان، وزیران او سپه سالاران موږ ته راښووي او ثابت کوي یې چي زموږ د ملت نیکه ګان یوازي د توري تښتنان نه وه علم او ادئ یې هم درلود.

(۱۰) د شاعرانو په برخه کي راښووي چي د پښتنو ښځي هم هر کله علم درلود او په پښتو ادب کي یې مهمه برخه درلوده او هم د پښتو خورا بدیعي اشعار یې موږ ته پرې ایښي دي، چي د علم ادب او لوړ فکر له نقطه نظر څخه ډېر په زړه پوري دي او زموږ د ادبي آثارو له غنائمو څخه دي، لکه د پښتو بوستان شرحه چي د دین محمد کاکړ لور زرغونې مرحومي شاعري په ۹۰۳ هـ کي په پښتو نظم کړی دئ. د رابعې دېوان چي د ۹۱۵ هـ سنې په حدودو کي یې حیات درلود.

دا وه یوه لنډه شرحه چي د کتاب په ښېګڼو او مزایاو کي چي په لسو موادو کي لنډه کړه سوه. اوس د کتاب د درو سرو برخو د اشعارو خلصي نمونې وړاندي کېږي یعني د هري خزانې څخه د مرغلرو یو یو لاړ را اخیست سوی او در ښوول کېږي :

## لومړۍ خزانه
## د متقدمینو برخه

د دې کتاب په لومړۍ خزانه کي تر ټولو پخوانی شاعر جهان پهلوان امیر کروړ د امیر پولاد سوري غوري زوی دئ، چي د کتاب مؤلف د ده شرح حال او اشعار، د شیخ کټه له "لرغوني پښتانه" څخه را اخیستي او شیخ هم له تاریخ سوري څخه رانقل کړي دي او وایي چي امیر کروړ په ۱۳۹ هـ کال د غور په مندېش کي امیر سو او د غور، بالشتان، خیسار او برکوشک کلاوي یې ونیولې او په یوازي سر د سلو تنو سره جنګېدی ځکه یې نو دی "کروړ" باله چي په پښتو کي د کلک او ټینګ معنی ورکوي او په زمین داور کي یې مانۍ درلوده چي عیناً د مندېش د قصر په څېر وه او په تاریخ سوري کي یې راوړي چي دې کورنۍ په پېړیو په غور، بالشتان او بست کي حکومت درلود او د سهاک له اولاد څخه ده.

شیخ کټه د تاریخ سوري له نقل څخه د امیر کروړ وفات د پوشنج په جنګو په ۱۵۴ هـ کال کي لیکي، چي تر ده وروسته یې زوی امیر ناصر غور، سور، بست او زمینداور ونیول.

د غوري دورې معروف مورخ منهاج سراج الجوزجاني په ټينګو استنادو سره ليکي چي :
"امير فولاد غوری يکی از فرزندان ملک شنسب بن خزنک بود و اطراف جبال غور در تصرف او بودند و نام پدران خود را احياء کرد، چون صاحب الدعوۍ العباسيه ابو مسلم مروزی خروج کرد و امراء بنواميه را از ممالک خراسان از عاج و اخراج کرد. امير فولاد حشم غور را به مدد ابو مسلم برد و در تصرف ال عباس و اهل بيت آثار بسيار نمود و مدتها امارت منديش و فرماندهی بلاد جبال غور مضاف بدو بود، درګذشت و امارت بفرزندان برادر او بماند بعد ازان احوال ايشان معلوم نشد تا عهد امير بنجی نهاران ... ".
د منهاج سراج له دې روايت څخه راوزي چي امير پولاد اوکورنۍ يې په غورکي حکمراني او شهرت درلود، دا چي منهاج سراج په طبقات کي د ده د زوی اميرکروړ ذکر نه دئ کړی څرګنده ده چي ده ته ورمعلوم نه و، ځکه چي د کتاب د ليکلو پر وخت له غور څخه ليري اوسېدی او پخپله دی هم په دې باب يو ذکر او عذر کوي، له دې جهته يې ونکړای سوای چي د امير پولاد د اولاد شرحه دي لاس ته راوړي، دغه سبب دئ چي د امير پولاد وروسته يې يوه دوره مسکوت عنها پرې ايښې ده وروسته يې د امير بنجي نهاران او د ده د اولاد په شرح حال بوخت سوی دئ.
په دې کي چي د غور پادشاهان د ضحاک له اولاد څخه دي منهاج السراج او ډېری نور مورخين متفق دي، زموږ مولف هم دا اسم علم (سهاک) ليکلی دئ او موږ پوهېږو چي سهاک د پښتنو په قوموکي يو قوم دئ چي د تاريخي اجرستان په حدودوکي اوسيږي او هم د پښتنو په اسماء الرجال او اعلاموکي ډېر ځله (سهاک) پيدا کوو، سهاکزي اوس اسحق زي سوي دي او باميان ته نژدې د سهاک د ښارکنډوالې د دې علم پر تاريخي والي دلالت کوي او تر اسلام په دمخه زمانوکي د ساکا سهاکا چي وروسته سکستان او سجستان او سيستان د هغې کلمې څخه راوتلي دي موجود و، نو ښېله شبهې او ترديد څخه دا کلمات و يوې ريښې او منبع ته راجع کولای سو.
او دا موضوع د وطن په تاريخ کي مفصله شرحه غواړي چي يو بېل کنفرانس ايجاب کوي، ځکه نو د هغه له تفصيل څخه صرف نظرکوو، چي له اصلي موضوع څخه ليري نه سو.
او دا چي اميرکروړ د امير پولاد زوی د عباسي په دعوت کي يې د سفاح او ابو مسلم خراساني پر خوا شرکت درلود داکتاب داسي ليکي :
چي امير پولاد په هغه دعوت کي لاس درلود چي سفاح د بني اميه سره جنګېدی او ابو مسلم هم د ده ملګری و، د محمد ابن علي البستي په تاريخ سوري کي داسي ليکلي دي :
چي د عباسي دعوت په ترڅ کي چي اميرکروړ ډېر فتوحات وکړل دا ابيات يې چي هغه ته وياړنه يعني (رجز و فخريه او حماسه) ورته وايي وويل، چي زموږ مولف هغه له شيخ کټه له تاريخ سوري څخه نقل کړي دي.

د جهان پهلوان اميرکروړ حماسه

زه يم زمري پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هندو سند و پر تخار و پرکابل نسته
بل پر زابل نسته – له ما اتل نسته

غشی د من مي ځي برېښنا پر میرځمنو باندي
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدلو باندي
په ماتېدونو باندي – له ما اتل نسته

زما د بریو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ و په ویاړ
د آس لسوو مي مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ – له ما اتل نسته

زما د توري تر شپول لاندي دئ هرات و جروم
غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په اودم
زه پېژوند یم په روم – له ما اتل نسته

پر مرو زما غسي لوني ډاري دښن راځخه
د هریوا له رود پر ځنډو ځم تښتي بلن راځخه
رېی زړن راځخه – له ما اتل نسته

د زرنج سوبه مي لوړاوی د توري په مخ سور وکړه
په باداري مي لوړاوی د کول د سور وکړه
ستر مي له تربور وکړه – له ما اتل نسته

خپلو وګړو لره زه لور پېرزوینه کوم
دوی په ډاډنه ښه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم – له ما اتل نسته

پر لویو غرو مي وینا درومي نه په ځنډو په تاېل
نړۍ زما ده نوم مي بولي پر دریځ ستایوال
په ورځو میاشتو وکال – له ما اتل نسته

دا وه د جهان پهلوان امیرکروړ حماسي ترانه چي د پخوانیو د قیمت لرونکو اشعارو مهمه نمونه ده او د وزن، بحر او عروضو له حیثه هم خالص ملي ده او د حماست ملي احساسات او رجز په هغه کي پټ دي او په دې ټول شعر کي یو توری هم له پردیو ژبو څخه نه پکښي لیدل کیږي او د ژبي پخواني کلمات یې لکه اتل (د نابغه او پهلوان په معنا)، میرځمن (دښمن)، یونم او یرغالم (سفرکوم او پر ورځغلم)، هسک (آسمان)، نمنځ (عبادت او ستایش)، پلن (پیاده)، زړن (دلاور)، لور (مهر او محبت)، بامل (تربیه او پالنه)، دریځ (منبر)، ستایوال (د ستایونکي په معنی) ضبط او خوندي کړي دي او د شعر د فصاحت او بنیت؟ د ټینګوالي له مخي ډېري ښېګڼي لري چي دلته نه ځایېږي.
د "من" کلمه چي د دې حماسي شعر په دوهم بندکي راغلي ده غالباً هغه "من" دئ چي اوس هم د هند

په آریایي ژبو کې د زړه په معنی دئ، لکه ابوریحان البیروني چې په کتاب الهند کې لیکي، ځکه چې د هند آریانانو د ارادې مرکز او محل زړه باله نو عزم او ارادې ته یې هم زړه وایه.

دا کلمه په پخوانۍ پښتو کې هم سته او د پخوانیو آریانانو د پاته آثارو څخه ده. دا دې هم له ویلو څخه پاته نه وي چې پخوانیو ملي افسانو هم د امیرکروړ نوم ژوندی ساتلی دئ او ځکه چې پخوانۍ افسانې، د تاریخ له مهمو منابعو څخه دي نو دا موضوع ښه مثبت کیږي.

بل د پښتو د خورا پخوانیو شعراوو څخه چې په دې کتاب کې یې ذکر سوی دئ زبدۍ الفصحاء ابو محمد هاشم ابن زید السرواني البستي دئ چې زموږ مړلف د لرغوني پښتانه په حواله سره د هغه شرح حال لیکلی او وایي چې :

ابو محمدهاشم د هلمند په سروان کې په ۲۲۳ هـ کې زیږېدلی او په بست کې یې له علماوو او فصحاوو څخه درس وایه، او عراق ته ولاړ او څو کاله یې په بغداد کې د مهشور ابن خلاد څخه سماع وکړه، په ۲۹۴ هـ کې بیرته راغی او درې کاله وروسته په بست کې وفات سو. ابو محمد په پښتو، عربي او پارسي شعر وایه.

هغه وخت چې ابن خلاد ړوند سو، ده د استاد خدمت کاوه او خواږه اشعار یې د عربو په ادب کې له ده څخه اروېدل او د خپل استاد ډېر اشعار یې په پښتو ترجمه او نظم کړي دي، ابن خلاد چې یو ظریف او ادیب و په یوه شعر کې یې درهم وستایه، او ابو محمد هغه شعر داسي په پښتو ترجمه کړ :

| | | |
|---|---|---|
| ژبه هم وینا کاندي چې یې وینه | | د خاوند په لاس کې زر او درهمونه |
| ژبه ور ورله ورځي وینا یې اروي | | د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه |
| که درهم یې ځني ورک سو سي نتلی | | پر نړۍ یې وي په خړو پېژندونه |
| که بډای سوښي و بولي خلک وایي | | دا وینا ده رشتیاینه له رشتونه |
| که بېوزلي ووایي رشتیا خبره | | نور ووایي دا خو سوښي دي تېرونه |
| هو درهم ښندي هر چا له لویه برخه | | د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه |
| درهم ژبه ده که څوک ژبه ور کیږي | | ده وسله که څوک په کاندي قتالونه |

نقل کوي چې ابو محمد د عربو د اشعارو د فصاحت او بلاغت په بیان کې یو کتاب په پښتو ژبه ولیکی چې (د سالو وږمه) یعني نسیم ربګستان یې نوم و.

لکه یاقوت حموي چې د معجم الادباء د اووم جلد په ٦١ مخ کې لیکي :

"محمدابن القاسم وقیل ابن الخلاد المعروف بابي العینۀ الاخباری الادیب الشاعرکان فصیحاً بلیغاً من ظرفاء العالم آیۍ فی الذکاء واللسن و سرعۍ الجواب".

دغه ډول یاقوت د ده تولد په اهواز په ۱۹۱ هـ کي او وفات یې په ۲۸۳ هـ کې لیکي، او له ښه مرغه هغه یو شعر یې چې شاګرد یې په پښتو ترجمه کړی دئ یاقوت هغه هم ضبط کړی دئ. د دې له پاره چې ښاغلي لوستونکي د اصل شعر له هویت څخه هم خبر سي لاندي یې لیکو :

| | |
|---|---|
| من کان یملک درهمین تعلمت | شفتاه انواع الکلام فقالا |
| و تقدم الفصحړ فاصتمعوا له | و رډیته بین الوری مختالا |
| لولا دراهمۍ التی فی کیسه؟ | لرډیته شرالبریۍ حالا |
| ان الغنی اذا تکلم کاذباً | قالوا صدقت و ما نطقت محالا |
| و اذالفقیر اصاب قالوا لم تصب | وکذبت یا هذا و قلت ضلالا |
| ان الدراهم فی المواطن کلها | تکسو الرجال مهابۍ و جلالا |
| فی اللسان لمن اراد فصاحۍ | و هی السلاح لمن اراد قتالا |

بل د پخوانیو شعراوو څخه امیر الفصحاء شیخ رضي لودي دئ، چي زموږ مړلف د ده په باب کي داسي لیکي :

کامران خان د سدو خان زوی په ۱۰۳۸ په ښار صفا کي د کلید کامراني په نوم یو کتاب ولیکی او په دې کتاب کې د "اعلام اللوذعي في اخبار اللودي" له تاریخ څخه چي شیخ احمد د سعید لودي زوی لیکلی دئ، داسي نقل کوي چي :

شیخ رضي لودي د شیخ حمید لودي وراره و، هغه وخت چي شیخ حمید په ملتان کي پر تخت کښېنوست، خپل وراره يې د پښتونخوا لوري ته واستاوه چي د هغو غرو وګړي د اسلام دین ته راوبولي، شیخ رضي دوه کاله د کسي (یعني سلیمان) په غره کي و، ډېری وګړي يې مسلمانان کړل، داسي نقل کوي چي نصر د شیخ حمید زوی په ملتان کي د ملا حده(؟) ږ د استاځو سره کښېنوست، او د اسماعیلي فرقې عقاید او الحاد يې له دوی څخه زده کړل او د دوی عقاید يې ومنل، هغه وخت چي شیخ حمید وفات سو، نصر يې پر ځای کښېنوست او د الحاد په ترویج کي يې زیار وکیښ او قرامطه يې راوبلل، "شیخ رضي" چي یو سپېڅلی مسلمان و د اکا زوی ته يې دا ټوټه شعر ولیکی :

| | |
|---|---|
| د الحاد په لور دي تړپل | ګروه دي زموږ وکوراوه |
| موږ روڼلې په زیار نه | تا په تور وتوراوه |
| لرغون ولې ګروهېدلی | چي دي ګوښي اړاوه |
| هغه ګروه دي اوس آړه کړ | چي پلرو دي رڼاوه |
| لودي ستا په نامه سپک سو | که هر څو مو درناوه |
| نصره نه مو يې له کهاله | لودي نه يې په کاوه |
| زموږ رغا ده ستا په ګروهه | د ورځلوی په رغاوه |

یعني الحاد ته واوښتې او زموږ د دین نقش دي وسولاوه، موږ په زحمت او زیار رڼ کړی و، لیکن تا هغه تور کړ، لومړی دي ولي ومانه چي وروسته بیرته ملحد سوې؟ هغه دین چي ستا پلرو روښان کړی و په بل دین دي واړاوه او لودي ستا په نامه ځوړ سو، اې نصره ! زموږ له کهاله څخه نه يې، او ستا کړه د لودینانو نه دي، موږ د قیامت په ورځ ستا څخه تبراء غواړو.

نصر د شیخ رضي جواب داسي ورکړ :

| | | |
|---|---|---|
| د الحاد په تور تورن سوم | | زه لرغون خو ملحد نه یم |
| زما دښنه هسي تورا کړې | | که ملحد یم د دښنه یم |
| له اسلامه نه ترپلمه | | تورانو ځخه په ترپلمه یم |
| ګروه مي هغه لرغونی دئ | | اوس هم کروړ په لرغونه یم |
| د اسلام پر سپک به ځلم | | و تورانو ته تیاره یم |
| د لودي زوی سنتي یم | | د حمید له لوړ کهاله یم |
| تورانی دښن چي وایي | | زه له ګروهه په آړه یم |
| دا یې تور تاسي دروهوي | | زه مومن ستاسي په تله یم |
| د دښنو وېناوي مغزه | | زه لودي یمه ځو زه یم |
| | | |

دا وه د لودي پادشاهانو د معروفي کورنۍ د دوو نفرو کلام چي د الپتګین او سبکتګین په عصر د ۳۵۱ تر ۳۹۰ هـ په حدودو کي یې د ملتان او هند په شمال غربي برخو کي حکمراني درلوده. له ویلو ځخه دي پاته نه وي چي اسلامي محقق مؤرخین لکه ابن اثیر او ابن خلدون او نور هغه وخت چي د سلطان محمود او د دې کورنۍ تر منځ جنګونه ذکر کوي، د دې کورنۍ ملیت او نسبت ته هیڅ اشاره نه کوي. حتی پخپله عبدالحی د ضحاک ګردېزي زوی چي زین الاخبار یې د ۴۴۰ هـ په حدودو په غزنه کي ولیکی، غیر له دې ځخه چي داود بن نصر، قرامطي وبولي د ده د قومیت او نژاد په شرح لګیا نه سو او د محمود د سلطنت په شرح کي یې ولیکل :

"چون سنه احدی و اربع مؤته اندر آمد از غزنین قصد ملتان کرد و آنجا رفت، و باقی که از ولایت ملتان مانده بود بتمامی بګرفت، و قرامطه که آنجا بودند بیشتر از ایشان را بګرفت و بعضی را بکشت و بعضی را دست ببرید و نکال کرد، و بعضی را به قلعها بازداشت، تا همه اندر انجا بمردند و اندرین سال داود بن نصر را بګرفت، بغزنین آورد و از انجا به قلعه غورک فرستاد (غورک تر اوسه د کندهار شمال غربي خوا ته ۳۰ میله لیري پروت دئ) و تا مرګ او اندران قلعه بود".

ابن اثیر او ابن خلدون وایي چي :

سلطان محمود په ۳۹٦ هـ کي پر ملتان حمله وکړه او ابوالفتوح یې د الحاد په الزام بیرته کړ. ابوالفتوح داود د دغه نصر زوی دئ، چي زموږ د کتاب او ټولو مؤرخینو په نزد د شیخ حمید زوی و.

لیکن ځیني نوي مدققین چي په تاریخ کي په زړو مسایلو ویسا لري د دې کورنۍ د افغانیت مسئله یې محض جعلي بللې او د علامه سید سلیمان ندوي د هند پیاوړي معاصر مؤرخ په نزد چي د (تعلقات عرب و هند) د تاریخ په ۳۲۸ مخ کي یې لیکلي دي، دوی نسلاً عرب او د سند د (جلم بن شیبان) د عربي نژاده حکمران اولاده ده.

نوموړی علامه وایي :

د دې کورنۍ د افغانیت قصه محمد قاسم بن فرشته لیکلې ده، نه یم خبر چي له کومي خوا یې جوړه کړېده؟ او تر فرشته پورته بل سند نه لري، لیکن اوس د دې کتاب له تفصیل ځخه په ښه توګه ثابت کیږي چي دا کورنۍ په خټه پښتنه او لودي او ژبه یې هم پښتو وه او د دوی اشعار هم دغه کتاب زموږ په لاس راکړي دي.

هغه سند چي د کتاب مؤلف د دې شرح حال په نقل کي ذکر کړی دئ هم محکم لیدل کیږي، ولي کلید

کامراني پخپله مرلف لیدلی و او اخبار اللودي هم پخپله د کلید کامراني مرلف په ډېر وضاحت ښوولی، مرلف او د لیکلو تاریخ یې هم بې ویلو نه دئ پرې ایښی او د غزنویانو او د اخبارللودي تر منځ هم تر
یو نیم قرن زیات مدت نه کیږي. په هر صورت دا روایت تر ټولو محکم په نظر راځي او د ملتان د لودي پادشاهانو په پښتون والي کي هیڅ شبهه نه پاته
کیږي.

بل د پښتو د پخوانیو شعراو څخه چي په دې کتاب کي ذکر سوی دئ د (سړبن) د زوی (خرښبون) او د (بېټ نیکه) د زوی (شیخ اسماعیل) نیکه ګان دي چي سلېمان ماکو هم پخپله تذکره کي د اسماعیل او د ده د پلار حضرت بېټ نیکه اشعار لیکلي دي، په دې کتاب کي وایي چي :

دوی کله د (کسي غره) په لمنو کي اوکله هم په (غوږه مرغه) او د غنډان په غره کي چي د اوسني کلات په جنوب کي واقع دئ اوسېدل، او خرښبون په ۴۱۱ هـ په مرغه کي وفات سو، کله چي خرښبون په سفر تلی د ده ګران او وفا لرونکی دوست اسماعیل (د ده د اکا ززوی) یې په فراق کي دا نغمې ویلي دي چي اشعار یې سوچه پښتو او د لغړي ملي لهجې پر وزن دي :

که یون دئ یون دئ مخکي بېلتون دئ
له کسي غره څخه ځي خرښبون دئ
که وروره وروره – خرښبون وروره !
ته چي بېلتون کړې – زما ویر ته ګوره
چي ځې مرغې له – توري کرغې له
همزولي پاته – ځې څه پرغې له؟
د خدای دپاره – خرښبون یاره
چي هېر مو نه کړې – زموږ کهول واړه
زړه مي رپېږي – یار مي بېلېږي
بېلتون یې اور دئ – ځان په سوځېږي

د خرښبو جواب په څلوریځ (مربع) شعر کي :

ښلتانه ناره مي وسوه په کور باندي
نه پوهېږم چي به څه وي پېښ په وړاندي
له خپلوانو به بېلېږم په سرو سترګو
دواړي سترګي مي په وينو دي ژړاندي
اسماعيله ! ستا نارو مي زړګی سری کی
ښلتانه خرښبون بيا له تا پردی کی
نه هېرېږې که مي بيا نه ستا يادي کي
په چړو د وير به پرې سي د زړه مراندي
ځمه ځمه چي اوړد يون مي دئ و مخ ته
د يانه څوري به اچوم و ترخ ته
ستاسي ياد به مي وي بس د زړه و سخ ته
که دا مځکه غرونه ټول سي لاندي باندي

په دې زړه وړونکو اشعاروکي د خپلوۍ او د کوروالي د ميني سپېڅلي احساسات په نظر راځي او موږ ته څرګندوي چي زموږ نيکه ګان او اسلاف څنګه د عشق تر مرتبې پوري يو پر بل سره ګران وه او يو د بل په محبت اوګرانوالي کي يې روڼه اشعار ويل، او دا ډول سپېڅلي سرودونه د زړو آريانانو د کور خوښولو له خصايصو څخه دي چي د ښېځ نيکه په اشعاروکي هم ليدل کېږي، لکه چي وايي :

دلته دي د غرو لمني
زموږ کيږدۍ دي پکښې پلني
دا وګړي ډېر کړې خدايه
لويه خدايه ! لويه خدايه !

لکه ګوستاولوبون چي خپل (د هند تمدن) په کتاپ کي ليکي : زړو اريانانو خپل کورکهول خورا مقدس او د ټولو نعمتو او نېکمرغيو مرکزګاڼه او د ريګويدا له دې فقرې څخه همدا ډول سپېڅلي احساسات راوزي :
"څښتن تعالی مالک الملک او ژوند ښندونکی دئ، دی ښاغلي کورنۍ وګړو ته ورکوي".
له دې ټولو مباحثو څخه جوته کېږي چي د ښاغلو نيکه ګانو دا اشعار د دوی د زاړه روح نماينده دي او اصيل والی او ښاغلتوب د دوی په کلماتو او مصرعوکي پټ او نغاړلی دئ.
يو بل د پښتو له مقتدرو ويونکو او قصيده ويونکو شعراو څخه شيخ اسعد سوري دئ چي زموږ مړلف د ده شرح حال له لرغوني پښتانه څخه اخيستی او دا کتاب هم ذکر سوي تاريخ سوري ته حواله ورکوي او وايي چي شيخ اسعد په ۴۲۵ هـ په بغنين کي (د داور تاريخي ښار چي اوس هم بغني ورته وايي) وفات سو او ده د غور د سوري پادشاهانو ګرانښت مقام درلود، کله چي سلطان محمود پر غور يرغل وکړ، امير سوري يې په آهنګران کي (د غور له مشهورو او تاريخي کلاوو څخه) محصورکړ، هغه وخت چي تر تسليم وروسته يې نوموړی امير و غزني

ته بندي بوت او په لارکي مړ سو، شيخ اسعد چي د امير محمد دوست و د ده په رثا کي يې يوه قصيده وويله. د محمود د غور دجنګ کيسه او د امير محمد سوري نيول په مړرخينو کي مشهوره ده، منهاج السراج الجوزجاني د هغه شرح په طبقات ناصري کي مفصلاً ليکي چي محمد تر اوږدې محاصرې وروسته محمود ته تسليم سو، ليکن محمود دی بندي کړ او و غزنه ته يې واستاوه او په لاره کي چي د (ګيلان يا کيدان) موضع ته ورسېدی د بندي توب له غيرته وفات سو. عنصري د سلطان محمود په يوه مدحيه قصيده کي دې مسئلې ته اشاره کړې ده :

ګرفتن پسر ســوری و کشادن غور

هر آئينه نتوان کرد در سخن مضمر

لنډې دا چي امير محمد د غور د مځکي له پادشاهانو او د غوري سلاطينو له نيکه ګانو څخه دئ او هغه قصيده چي اسعد دده په رثا کي ويلې ده، د پښتو له غورو قصيدو څخه ده چي د وينا په بلاغت او فصاحت او په تودو احساساتو کي سارى نه لري. دا ده هغه قصيده :

د فلک له چاري څه وکړم کوکار
زمولوي هرګل چي خاندي په بهار
هر غټول چي په بېديا غوړېده وکا
رژوي يې پاڼي کاندي نار په نار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا ترخاورو لاندي زار
د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي
د بېوزلو ويني توی کاندي خونخوار
چي له برمه يې زمری رېي زنګلو کي
له اوکوبه يې ډاري تېر و جبار
هم يې غشي سکڼي ډال د ژوبلورو
رستمان ځني ځغلا کاندي په ډار
چي يې ملاوي نه کږېږي په غښتليو
دا فلک پر وکا څه کاري ګذار
په يوه ګردښت يې پرېباسي له برمه
نه يې غشی نه ليندۍ وي نه يې سپار
څه تېری څه ظلم کاندې اې فلکه !
ستا له لاسه نه دئ هيڅ ګل بېله خار
په ويرژلو لور نه کړې په زړه کړايه
پر نتلو اوروې د غم ناتار
هيڅ روغي مي په زړه نسته ستا له ځوره
بېلوې په ژړا ژړ مين له يار
له تېريو دي اوښي څاڅي له اوريځو
چښي ژاړي په ورت ورت ستا له شنار
نه به لاس واخلې له ځوره نه به لورې

نه به ملا کړې له بېوزلو له ترار
نه به زړه وسوځوې په هيچا باندي
نه به پرېوزې له ګردښته له مدار
نه به وصل کړې مين له بل مينه
نه به درملې ټپونه د افکار
ستا له لاسه دي پراته ژوبل زګېروی کا
هر پلو ته ټپي زړونه په ځار ځار
کله غوځي کاندې مراندي د زړګيو
کله تېر باسې وګړي هوښيار
کله ټکي واچوې پر نازوليو
کله څيري کړې ګرېوان د نمنځني چار
کله غورځوې واکمن له پلازونو
کله کښېنوې په خاورو کي بادار
زموږ پر زوړنو دي نن بيا يو غشی وويشت
و دي ژوبله په دې غشي هزار
پر سوريو باندي وير پروت دئ له پاسه
محمد واکمن چي ولاړی په بل دار
يو وار سو اسير په لاس د ميرځمنو
انتقال يې وکړ قبر له بل وار
په سماو يې ودان آهنګران و
په ټپکنه يې وپر درست جهان اوځار
د محمود د ژوبلورو په لاس کښېووت
چي غزنه ته يې باتلی په تلوار
ننګيالو لره قيد مړينه ده ځکه
سه يې والوته هسک ته پر دې لار
تر نړۍ يې غوره خاوري هديره کا
د زمريو په بېړيو، کله وي څوار
په دې وير د غور وګړي تور نمري سول
په دې وير رڼا تياره سوله د ښار
ګوره څاڅي رڼې اوښي له دې غرونو
داکړونګي ساندي لي په شورهار
نه هغه زرغا د غرونو په ښديا ده
نه د زرکو په مسا دئ کتهار
نه غټول بيا زرغونيږي په لاښونو
نه بامي بيا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بيا راځي کاروان د مشکو

نه را درومي غور ته بيا جوړې د شار
د پسرلي اوره تودې اوښي توينه
مرغلري په نيسان نه کړي نثار
دا په څه چي محمد ولاړ له نړيه
په ويرنه يې سو غور ټول سوګوار
نه ښکارېږي هغه سور د سور په لتو
نه ځلېږي هغه لمر په دې ديار
چي به نجليو په نڅا پکښې خندل
چي به پېغلوکی اتڼ قطار قطار
هغه غور په وير ناتار د واکمن کښېووت
هغه غور سو د جاندم غوندي سور آړ
لاس دي مات سه اې فلکه چي دي وکا
محمد غوندي زمري د مړيني ښکار
شين زړګی ! فلکه ولي لا ولاړ يې
اې د غور غرونو پر څه نه سوی غبار

مځکي ولي په رپېږدلو نه پرېوزې
لاندي باندي سه چي ورک سي دا شعار
چي زمری غوندي واکمن ځي له جهانه
چي څوک نه کړي په نړۍ باندي قرار
سخ په تا اې محمد د غور لمر وې
په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار
پر ننګه وې ولاړ پر ننګه مړ سوې
په مه ننګه دي په ننګه کا ځان جار
که سوری دئ پتنګ ويرکاندي ويرمن سول
هم به وياړ ستا په نوم ستا په ټبار
په جنت کي دي وه تون زموږ واکمنه
هم په تا دي وي دېر لور د غفار

بل د پښتو د پخوانيو قصيده ويونکو شعراوو څخه ښکارندوی د احمد (د فېروزکوه دکوټوال) زوی دئ چي زموږ مؤلف د ده اشعار او احوال د شيخ کتې له لرغوني پښتانه څخه اخيستي دي، شيخ هم له تاريخ سوري څخه نقل کړي دي.

ښکارندوی د سلطان معزالدين محمد سام په عصرکي ښاغلی سړی و او محمد بن علي د تاريخ سوري ليکونکي ويلي دي چي ما په بست کي د ده د قصيدو پنډ کتاب وکوت، او دا قصيده چي د ده په مدح او د فتوحاتو يې چي په هندکي يې کړي دي له هغه کتاب څخه ده :

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې سوې
طیلسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دي
مرغلرو باندي وښکلل بڼونه
د غټولو جنډې خاندي و رېدي ته
زرغونو بڼوکي ناځي زلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا
هسي وګاڼل غټولو سره پسولونه
مرغلري چي اور و د خونولیه
په ځلا یې سوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکوکي ځل کا لکه ستوریه
چي پر هسک باندي ځلیږي سپین ګلونه
سپیني واوري ویلېده کاندي بهیږي
لکه اوښې د مین په ګرېوانونه
هر پلو رنې ولې بهاندي خاندي
له خوښیه سر وهي له سپنګړونه
هر پلو د ګاو وړم دئ لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه
د مسیح په پو به مړو ژوندون بیا موند
پسرلی مګر مسیح سو په یو ګړونه
له مړو خاورو یې آغلی ګل راویوست
وچ بېدیا او غر یې کړله جنتونه
سړی جاجي چي رامشت رامشګرو
ګهیځ چونې چي په بڼ وکا ږغونه
په هر بڼ چي ږغ د چونیو نغوېده سي
ته وا چندي سره پیودي اشلکونه
د زلما ټاپی راغلی دئ پر جنډیو
لکه پېغله غوټۍ کاندي مکېزونه
د یو پلو مخ سورکړی پسرلي دئ
یو د بل په غاړه اچوي لاسونه
د هندارو په څېر غرونه سپین وړنګن دي
چي پر واورو باندي ځل وکا لمرونه
په غورځنګ غورځنګ له خوله ځګونه باسي
لکه شڼ هاتي ښنا کاندي سیندونه

نه به چونې په ستايه دګلو موږ سي
نه به موږ سم د سلطان په صفتونه
د شنسب دکهاله ختلی لمر دئ
د پسرلي په دود ودان له ده رغونه
د ښندارو يې درست ايواد زرغون کړ
له قصداره له دېبله يې يونونه
په زابل چي د بري پر نيلي سپور سي
په لاهور يې د مړاني ګذارونه
نه يې ځوک مخ ته دري د ميرځمنو
نه يې توري ته ټينګيږي کلک دالونه
د اسلام د دين شهاب د نړۍ لمر دئ
تور ستهان يې کړ رڼا په جهادونه
هره پلا چي دی پر هند و سند يرغل کا
رڼوي توره نړۍ په شهابونه
په پسرلي چي يې تېرون په اټک وکا
غاړه غاړه يې ترې سو ليله زړونه
نه به ده غوندي روڼ ستوری په هسک ځلي
که څه پورته سي له غوره ډېر مړونه
نه به راولي جګړن د سيند په لوري
نه به پري ځوک د هند خپاره ښهرونه
نه به ځوک زلمي د غور سره راغونډ کا
د داور توري به چيري کا ځلونه
يو خاوند شهاب الدين دئ چي يې وکا
په هر لوري هر ايواد ته يرغلونه
په جوپو جوپو جګړن يې هند ته يون کا
چي د غور بادار په مټ وکا زغلونه
نن په سند باندي تېرېږي يرغل کاندي
په پرتم يې زمري رېږدي په زنګلونه
ځپان سند يې هم له ډاره ايلايي کا
پر اوږو وړي د غوريانو ښه ايړونه
په هرکال اټک د ده ښه راغلی کاندي
غوړوي په څنډو خپل پاسته سالونه
پښتونخوا ښکلي زلمي چي زغلي هند ته
نو آغليه پېغله کاندي اټنونه
زرغونې ختي اغوستي وي دې غرونو
بټ بېديا هم پسوللي وي ځانونه

هر ګهيځ چي لمر څرکيږي له خاتيځه
څو چي يون کا د لوېديځه په څنډونه
که پر لځير؟ وي که غرمه وي که برمل وي
که لرمل که لمر لوېده که ترملونه
د شهاب جګړن به نه کښېني له زغلو
نه به پرېږدي دا زلمي خپل بهېرونه
زمري کله کاږي ځان له يرغلګريو
څو يې نه کا مات متونه ورمېږونه
يا به جګ کا د بريو رپی په هند کي
يا به پرېږدي هم په دې چاره سرونه
يا به وران کا بودتونونه د بمبنو
يا به سره کاندي په وينو ايوادونه
په رڼا اوسې ته تل د دين شهابه !
نوم دي تل وه په رويځ په نمزدکونه
څو راڼه سي ستا په توره د هند لوريه
څو چي نېست کړې له نړيه بوتونونه
ستا په زېرمه دي خاونده لوی ښنتن وي
موږ خو ستا په مرسته يونه څو چي يونه

زموږ بل ملي شاعر چي د عصر د پخواوالي له حيثه اهميت لري او په دې کتاب کي ذکر سوی دئ مرحوم شيخ تيمن د کاکړ زوی دئ، چي زموږ مړلف د ده شرح حال د خپل پلار په روايت سره د شيخ بستان بړېڅ له بستان الاولياء څخه چي په ۹۵٦ هـ کي تالیف سوی دئ اخيستی دئ او وايي چي تيمن د علاوالدين حسين سام په عصر په کجران کي اوسېدی، لکه د غوري دورې په تواريخ کي چي ليدل کيږي کجران يا کجوران د هغې دورې له معروفو ښارو څخه و، او تر اوسه هم کجران ورته وايي او تايمني قومونه او نور هلته اوسي، نو تيمن بېله شبهې څخه د اوسني تايمني سره ربط لرلی دئ او ځکه چي سلطان علاوالدين حسين په ۵۰۰ تر ۵۵۰ هـ پوري حيات درلود نو شيخ تيمن هم د ملي ژبي له پخوانيو شعراو څخه دئ.

زموږ مړلف د ده دا عشقي بدله د خپل پلار له بستان الاولياء څخه نقل کړې ده، چي په اور لګوونکي ملي لحن ويله کيږي :

| | | |
|---|---|---|
| ګهيځ رڼا د لمر خپره سوه | | زما پر کور د وير ناره سوه |
| د بلبلتون ورځ توره تياره سوه | | بڼغ سو ناځاپه چي ببلتون راغی |
| زړه مي له دې وېرني شين دئ | | په ژړا ژاړم څه ناورين دئ |
| زرغون له اوښو مي سادين دئ | | چي نول نوليږي چي تاخون راغی |
| نه به بيا يم نه به بيا راسي | | نه به تياره شپه زما رڼا سي |
| نه به شهی راته پخلا سي | | ببليږي پېر يې اوس د يون راغی |
| د څښتن يار دئ هېر مي نه کړې | | آغليه مخ چي په پاته کړې |
| اوربل دي پرېښووی واته کړې | | پر ما د بل اورکړوون راغی |

بل څوک چي زموږ په ملي شعراوکي لوړ مقام لري مرحوم شيخ متي د شيخ عباس زوی د عمر لمسی او د خليل کړوسی دئ، چي د خلي او متي زي د قوم له لويو نيکه ګانو څخه دئ د ده وفات زموږ مړلف په ۶۲۳ هـ کال د ترنک پر غاړه ليکلی دئ او د اوسني کلات پر لوړه غونډۍ مدفون دئ دا ستانه نيکه د پښتون له نوميالیو رجالو څخه دئ چي د ده په اولاد کي ډېر عرفاء او علماء پورته سوي دي او د پېښور په بدني کي اوسېدل. شيخ کټه د لرغوني پښتانه مړلف چي د دې کتاب له مهمو مېخذو څخه دئ او شيخ امام الدين د (انساب افغاني) او (اولیای افغاني) د کتاب ليکونکی چي قلمي نسخې يې سته، او ميا نعيم (د شاه زمان معاصر چي پښتو دېوان لري) او ډېری نوميالي عرفا او ليکونکي د دغه ستانه شيخ له تېره څخه دي.

لکه زموږ مړلف چي وايي :

شيخ متي په مناجات او عرفان کي ډېر اشعار درلودل او د ده کتاب (د خدای مينه) د مغول تر هجوم پوري د ده پر مزار و او وګړو وايه. کله چي مغول راغلل هغه کتاب يې يووی او نه سوه معلومه چي څه يې کړی. مرحوم مړلف د خپل پلار په روايت سره د شيخ متي دا خورا لوړ شعر چي د خپل څښتن تعالی سره راز او نياز لري نقل کړی دئ، چي زموږ له غورو ادبي آثارو څخه دئ :

پر لویو غرو هم په دښتو کي
په غاړه بړغ او په شپېلکو کي
ټول ستا د یاد نارې سورې دي

جنډۍ زرغون که په بېدیا دئ
ترنک چي خړ دئ په ژړا دئ
ټوله ښکلل دي ستا له لاسه

که لمر روښانه مخ یې سپین دئ
که غر دئ ښکلی پرتمین دئ
ستا د ښکلا دا پلوشه ده

دلته لوی غرونه زرغونیږي
بوراوي شاوخوا کړیږي
لویه خاونده ټوله ته یې

خاونده ښکلی ستا جمال دئ
که ورځ که شپه که پېړۍ کال دئ
ستا د لورونو یوه رڼا ده

زړه مي دا ستا د میني کور دئ
رپ یې و تا ته ستا پر لور دئ
ستا د جمال په لیدو ښاد دئ

په غرو کي ستا د عشق شپېلکی دئ
که غټ که ووړ که پنډ نری دئ
چي پر دنیا مي سترګي پرې سوې

په لوی سهار په نیمو شپو کي
یا د ویرژلو په شپېلو کي
د ستا د میني ننداري دي

د بر بڼ خوا ته په خندا دئ
دا ټول اغېز د میني ستا دئ
اې د پاسوالو پاسه پاسه

یا د سپوږمیه تندی ورین دئ
لکه هنداره مخ د سین دئ
دا یې یوه سپکه نندارہ ده

د ژوند وږمې پکښې چلیږي
سترګي لیدو ته یې هېښیږي
تل د نړۍ په ښکلېده یې

ښکاره یې لور په لور کمال دئ
ستا د قدرت کمکی مثال دئ
دلته چي جوړه تماشا ده

سوی د عشق په سوځند اور دئ
ببله دې هیڅ دئ ورک یې پلور دئ
که نه وي دغه نور برباد دئ

د دې نړۍ په عشق سمی دئ
ستا د جمال ځری هر شی دئ
ستا د جمال په ننداري سوې

| | | |
|---|---|---|
| نه هسک نه مځکه وه تور تم و<br>نه دا ابلیس نه یې آدم و<br>چي سو ښکاره ښکلې دنیا سوه<br><br>زه چي څرګند پر دې دنیا سوم<br>ستا پر جمال باندي شیدا سوم<br>په ژړا ژاړم چي بل بېلتون دئ<br><br>وګړو ولي "متي" ژاړي<br>څه غواړي څه وایي څه باړي؟<br>چوني چي بېل سي نیمه خوا سي | | تیاره خپره وه تول عدم و<br>ستا د جمال سوچه پرتم و<br>د پنځ پر لوري یې رڼا سوه<br><br>د ښکلي مخ په تماشا سوم<br>له خپلي ستي راجلا سوم<br>یمه پردېسی بل مي تون دئ<br><br>سورې یې اوري غاړي غاړي<br>خپل تون او تور وکلی غواړی<br>تل یې د بل په لور ژړا سي |

دا وه دکتاب د اشعارو په زړه پوري نمونې چي ولوستلي سوې، ځکه چي وخت لنډ دئ او د خبرو د اوږدولو اجازه نه ورکوي نو دکتاب پاته مضامین په لنډ ډول وړاندي کوم :

علاوه پر هغو شعراو چي بحث مو ځني وکړ په لومړۍ خزانه کي د دغو شعراوو ذکر سوی او د دوی د کلام نمونې ورسره ضبط سویدي :

بابا هوتک په ٦٦١ هـ کي متولد او په ۷۴۰ هـ کي مړ دئ، د ده یوه حماسي ترانه چي د مغولو په جنګ کي ویلې وه ضبط ده. شیخ ملکیار د هوتک زوی چي په ملي وزن یې له عشقي تاودو احساساتو څخه ډکه یوه ترانه ویلې ده. شیخ بستان بړېڅ چي د ۹۹۸ سنې په حدودو کي اوسېدی او د ده یو شعر په ملي لحن ثبت سوی دئ. شیخ عیسی د ۹۰۰ هـ په حدودو کي تېر سوی دئ. سلطان بهلول لودي په ۸۹۴ هـ کي مړ دئ. خلیل نیازی د سلطان بهلول معاصر، مشهور خوشحال خان ختک، زرغون خان د فراه نورزی، په ۹۲۱ هـ کي مړ دئ د ده یوه خورا بدیعه او فصیحه ساقي نامه ضبط سوې ده. دوست محمد کاکړ د ۹۰۰ هـ په حدودو کي، عبدالرحمن بابا په ۱۰۴۲ هـ کي پیدا سوی دئ، شیخ محمد صالح په ۱۰۰۰ هـ حدودو کي، علي سرور چي تر زرم هجري کال دمخه ژوندی و.

## دوهمه خزانه

د هغو شعراو شرح حال دئ چي د مرحوم مړلف سره معاصر دي او ډېری یې له دوی څخه هم لیدلي او ملاقاتونه یې ورسره کړي دي چي نو دا دي :

ملا باز، شاه حسین د هغه عصر پادشاه، محمدیونس خان، محمدګل مسعود، عبدالقادر خان ختک، بهادر خان د شاه حسین سپه سالار په کندهار کي، زعفران خان د شاه حسین د دربار مدار المهام، ملا محمدصدیق، ملا پیرمحمد میاجي شیخ الاسلام شاه محمود په اصفهان کي، بابو جان صدر دوران د هوتکو د دربار له مشاهیرو رجالو څخه، رېدي خان مهمند د محمودنامې یا شهنامه محمودي ناظم چي د مرحوم حاجي

میرویس خان اقدامات او د ده د زوی فتوحات چي په ایران کي یې کړي دي په دې کتاب کي یې په نظم لیکلي دي او د دې کتاب یوه برخه چي خورا خوړه او په زړه پوري ده په دې کتاب کي رانقل سوې ده. اللهیار آفریدی ، محمدعادل بړېڅ، محمدطاهر جمریانی، محمدایاز، محمدعمر، محمدحافظ د قندهار مشهور واعظ، نصرالدین خان د شاه حسین د دربار له مشاهیرو څخه، ملا نورمحمد غلجی د هوتکو د شاهي کورنۍ استاد، حافظ عبداللطیف اڅکزی، سیدال خان ناصر د پښتنو نومیالی سپه سالار چي په ایران کي یې لوی فتوحات کړي دي.

## دریمه خزانه

د کتاب دریمه خزانه د پښتو شاعراتو په شرح حال کي ده چي د ملي ژبي شپږ نفره پښتني شاعراني د دوی د اشعارو د نمونو سره یې ذکر کړي
دي :

(۱) نازو، د میرویس خان هوتک مور او د سلطان ملخي توخي چي په خپل عصر کي له کلاته تر غزني حکمدار و لور ده. نازو یوه مړنۍ ښځه وه، ډېر شجاعت، سخاوت او لوړ همت یې درلود د شعر او پوهني تښتنه وه چي حاجي میرویس خان مرحوم یې د خپل عصمت په پوړني کي روزلی و او ده ته یې ویلي وه چي د ده تر زوکړي دمخه یې ښېټ نیکه په خوب کي ولید او د هغه لوی نیکه له خوا د دې د زوی په صحیحه روزنه او پالنه کي توصیه ورته وسوه، نازو خپل زوی ته وویل :

چي ته څښتن تعالی د لویو کارو له پاره پیدا کړی یې باید لوړ همت ولرې چي د خدای مخلوق ستا په خدمت کي اوسا وي. هغه وخت چي په ۱۱۱۹ هـ کي مرحوم حاجي میرویس خان مشر، د وطن په استقلال کي بریالی سو او د پردو لاس یې لنډ کړ، د شکر سجده یې پر ځای کړه او وې ویل :

هغه لوی کار چي مور مي را سپارلی و اوس مي پر ځای کړ. نازو د شعر دېوان درلود چي تر ۲ زرو بیتو پوري رسېده چي زموږ مړلف پخپل کتاب کي د هغې نوموړي ښځي له اشعارو څخه یوه رباعي (څلوریځه) رانقل کړې ده :

سحرگه وه د نرگیس لېمه لانده
څاڅکي څاڅکي یې له سترگو څڅېده
ما ویل څه دي کښلې گله ولي ژاړې؟
ده ویل ژوند مي دئ یوه خوله خندیده

(۲) بله شاعره حافظه حلیمه د پښتو د پلار خوشحال خان ختک لور ده چي د مړلف په قول یوه عالمه عابده ښځه وه او ښه اشعار یې ویل او یو غزل یې زموږ خزانې خوندي کړې ده.

(۳) شاعره نېکبخته د شیخ الله داد مموزي لور، چي په ۹۵٦ هـ کي یې د هغه عصر لوی قطب شیخ قاسم افغان چي په هند کي شهرت لري راوړی دئ (زیږولی دئ) او دې مرحومي شاعري په ۹٦۹ هـ کي د ارشاد الفقراء کتاب په پښتو منظوم کړ.

(۴) زرغونه د ملا پیرمحمد کاکړ(؟) لور چي د سعدي بوستان یې په ۹۰۳ هـ کي په پښتو ترجمه او منظوم کړ او ښه خطاطه هم وه.

(۵) رابعه چي د ۹۱۵ هـ په حدودو کي په قندهار کي حیات درلود.

(٦) زینب، د ملي مشر مرحوم حاجي میرویس خان لور ده، چي یوه عالمه، شاعره، او د رډی او تدبیر تښتنه وه او د خپل ورور شاه حسین هوتک سره یې د سلطنت په امورو کي ملگري کوله. د دې د اشعارو له نمونو

څخه خورا بدیعه او قیمت لرونکې مرثیه ضبط سوېده چي زموږ شاعري د شاه محمود د اېران د فاتح د انتقال د خبر رسېدلو پر وخت ویلې ده، او خپل پښتني احساسات یې په هغه مرثیه کي ځای کړي دي، دا مرثیه د پښتو له مهمو ادبي آثارو څخه ده چي په سوځنده ملي لحن یې ویلې ده. د دې مرثیې څو بنده دا دي :

زړه مي په ویر کي مبتلا سونا
چي شاه محمود له ما جلا سونا

دا روڼ جهان راته تور تم دئ نا
زړه د بېلتون په تېغ قلم دئ نا
هوتک غمجن په دې ماتم دئ نا
د پاچهۍ تاج مو برهم دئ نا
چي شاه محمود تېر له دنیا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

ځوان و مېړه د توري جنګ ونا
ولاړ د کام پر نام و ننګ ونا
دښمن له ده په وینو رنګ ونا
پر میدان شېر و یا پلنګ ونا
افسوس چي مرګ د ده په خوا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

محموده نه یوازي خور ژاړي
پر مرګ دي ټوله کلی کور ژاړي
خپلوان لا څه پاچا دي ورور ژاړي
لښکر سپاه دي پلی سپور ژاړي
پښتون دي ټول په واویلا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

اصفهان پاته تاج نسکور عالمه
چي شاه محمود سو نن په ګور عالمه
د پښتون لمر سو تیاره تور عالمه
راته دښمن به کا پېغور عالمه
چي پاچا ولاړ پښتون ګدا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

اسمانه بیا دي څه ستم کا څرګند
وشلاوه تا چي د پښتون و پیوند
دښمن دي بیا زموږ په ویر کا خورسند
چي شاه محمود دي کا په قبر کي بند
پر کور مو ویر شور و غوغا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

هوتکو ژاړئ شاه محمود څه سونا
پښتنو ستاسي لوی سپاه څه سونا
له اصفهانه تر فراه څه سونا
پاچا چي و حشمت پناه څه سونا
د پښتنو پرتم فنا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

محموده ځوان وې ولي ولاړې له ما
له تخت و تاجه ته په څه سوې جلا
اصفهان ولي پاته سو نا له تا
سر دي راپورته کړه چي څه کړي اعدا
دښمن ولاړ بیا شاوخوا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

دا وه د دې کتاب له غورو اشعارو ځیني نمونې چي وړاندي مو کړې. له ویلو څخه دي پاته نه وي چي سربېره پر ادبي ښېګڼو دا کتاب د ملي موسیقۍ په برخه کي هم مهم دئ ولي ډېر ملي سرودونه چي زموږ په سپېڅلې ملي موسیقي پوري اړه لري، خوندي کړي يې دي که وخت مرسته کولای دلته به له هغه څخه ځيني د نمونې په ډول ویل سوي وای لیکن دا کار یو بل کنفرانس غواړي.